د حزب التحرير
ولایه افغانستان
مطبوعاتي دفتر

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾

حزب التحرير
HIZB UT TAHRIR

پنجشنبه ۲۲ ذوالقعده ۱۴۴۰هـ | ۲۵-۰۷-۲۰۱۹م | گڼه: ح.ت.افغ ۱۴۳۹/۱۲

مطبوعاتي اعلامیه

# د ټرمپ څرګندونو د افغانستان په اړه د امریکا بد نیت افشا کړ

د امریکا جمهور رییس د پاکستان د لومړي وزیر عمران خان سره د لیدنې کتنې پر مهال ویلي: «که موږ غوښتلی چې په افغانستان کې جګړه وکړو او په هغې کې بریالي شو، کولای مو شول په یوه اونۍ کې دغه جګړه وګټو، مګر زه نه غواړم ۱۰ میلیونه انسانان ووژنم. افغانستان د ځمکې له مخ څخه پاک کېدای شي. زه نه غواړم پر دغه لاره لاړ شم.»

**د حزب التحریر ـ ولایه افغانستان مطبوعاتی دفتر** د امریکا د جمهور رییس دغه خبرې د امکان تر پولې په سختو ټکو غندي او هغه د ټول بشریت په ځانګړي توګه د افغانستان د مجاهد او شریف ولس لپاره سپکاوی ګڼي. سره له دې چې موږ د امریکا او ناټو وحشت او ترور په ورځنې ډول په افغانستان کې تجربه کوو او د غرب د رهبرانو په دروغ ویلو هم بشپړ پوهېږو، مګر د دغه عصر د دجال دغه خبرې د غربي ښکېلاکګرو څېره چې د انسان دوستۍ د الفاظو، د ډموکراسۍ د دروغجنو ارزښتونو او بشري مرستو تر شا پټه شوې وه، زموږ د خاورې د هغو ړوند اندو لپاره یو ځل بیا بربنډه کړه چې همېشه له هغوی څخه د خیر او نېکمرغۍ د ترلاسه کولو تمه کوي. همداراز د ټرمپ دغه څرګندونې د مسلمانانو پر وړاندې د غربي رهبرانو له خبیثو نیتونو څخه پرده پورته کوي، چې له یوې مخې له مسلمانانو سره په بغض، دښمنۍ او کرکې ولاړ دي.

ټرمپ دوه مهم واقعیتونه هېر کړي دي:

**لومړی:** امریکایي رهبران باید د دغه مجاهد روزونکې خاورې تاریخ ته یو ځل کتنه وکړي او په دغه خاوره کې د ماتې خوړلو قدرتونو له برخلیک څخه د عبرت درس واخلي، چې له امله یې دغه خاوره په تاریخ کې د «امپراطوریو په هدیره» مشهوره شوې ده. دا یرغلګر ابر ځواکونه وو چې پر دغه خاوره باندې له یرغل وروسته یې نومونه د ژوندانه له پاڼې ورک شوي دي.

**دویم:** امریکایي رهبران د فرعون په څېر د تکبر او ځان لوړ ګڼلو ښکار شوي دي، چې د خپلو کثیفو چلندونو، وینااوو او سیاستونو په واسطه د نړۍ خلک توهینوي. حال دا چې د امریکا خپل اوسنی واقعیت یې هېر کړی، چې د خپل تاریخ په تر ټولو ناوریني شېبو کې شپې تېروي او هره شېبه له داخله د هغې د وېش او نړېدو وېره شتون لري. امریکا د تېر اتلس کلن اشغال په اوږدو کې عملا په افغانستان کې ماتې خوړلې او د هغې ټولې سیاسي او نظامي ستراتیژۍ له ناکامۍ سره مخ شوې دي. له همدې امله امریکا له طالبانو سره د سولې خبرې اترې پیل کړې دي، ترڅو د افغانستان له کړکېچ څخه د آبرومندانه وتلو لپاره حلاره ومومي. له دې امله یې لاس د پاکستان لمنې ته وراوږد کړی او د دغه هېواد خاینو رهبرانو هم د امریکا مرستې ته وردانګلي او پر طالبانو باندې د فشار راوړلو له لارې د امریکا د ماتې د مخنیوي په موخه خپل خاینانه رول لوبوي.

همدا چې یو ابر ځواک له داسې وسله والې ډلې سره د خبرو اترو مېز ته ناست دی چې یو وخت یې هغې ته د «تروریست» خطاب کاوه، په حقیقت کې د هماغه ځواک ضعف او ماتې نندارې ته وړاندې کوي. له شک پرته که له امریکا سره د اسلامي خاورو د چارواکو خاینانه مرسته، له هغې څخه وېره او د دوی بې غیرتي نه وای، امریکایي رهبرانو د دا ډول غیر مسوولانه وینااوو جرئت نه

درلود. غرب د دغو چارواکو په غاړه کې د غلامۍ رسۍ اچولې او ورځ تر بلې يې کړۍ ورباندې تنګوي، مګر دغه بې غيرته چارواکي له غرب څخه د نفرت پر ځای، ورته لازياته وفاداري ښيي.

نو تر هغه چې دويم راشده خلافت تاسيس نه شي او غيرتمن او عزتمن چارواکي د مسلمانانو رهبري پر غاړه وانخلي، غربي چارواکي به په اسلامي خاورو کې همدا ډول سرغړونو، متکبرانه څرګندونو او بې عقلانه سياستونو ته دوام ورکوي. د نبوت پر منهج راشده خلافت چې په نژدې راتلونکې کې قايمېږي، دغو فرعونيانو ته به داسې غاښ ماتوونکی ځواب ورکړي چې نه يوازې د بې ادبانه ويناوو جرئت به له لاسه ورکړي، بلکې د هغوی واکمني به له اسلامي خاورو څخه لېرې او له بين المللي ډګر څخه به يې شته هژموني هم له منځه يوسي.

**﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا بِطَانَةً مِّن دُونِكُمْ لَا يَأْلُونَكُمْ خَبَالًا وَدُّوا مَا عَنِتُّمْ قَدْ بَدَتِ الْبَغْضَاءُ مِنْ أَفْوَاهِهِمْ وَمَا تُخْفِي صُدُورُهُمْ أَكْبَرُ﴾** [آل عمران: ۱۱۸]

اې هغو کسانو چې ايمان مو راوړی! له خپلو پرته بل څوک د رازونو محرم مه ټاکئ! هغوی ستاسو په اړه له هرراز شر او فساد څخه مخ نه اړوي. هغوی غواړي ترڅو تاسو په ستونزو او زحمت کې وئ. د دښمنۍ «نښې» يې له خولو «په خبرو» کې ښکاره شوې دي؛ او هغه څه چې په زړونو کې پټ ساتي، تر هغو هم ستر دي.

## د حزب‌التحرير - ولايه افغانستان مطبوعاتي دفتر